**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکتر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکتر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۲/۱۶

# لویه تلوسه

## اوولسمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

### افغانستان او اوبه

افغانستان د اوبو سرچینه هیواد دی بلل کیږي تقریبا له بل هیڅ هیواده افغانستان ته اوبه جاري ندي خو بیا افغانستان څخه ټولو ګاونډیو هیوادونو ته اوبه جاري دي. ښکاره ده چې د آمودریا(جیحون) د ګډو اوبو یوه برخه اوبه تاجکستان څخه راځي خو د جیحون، پنجاب، سند، د هلمند، هریرود، مرغاب په څېر د ډېرو مهمو رودونو او د نورو رودونو اوبه افغانستان څخه سرچینې اخلي او همېوله او ګاونډیو هیوادونو پر لور جریان مومي.








افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان ملت له سل کاله مخکي پولیزو اوبو( د پولی اوبو ) په هکله یو نالیکلی او کله لیکلی سیاست لري او هغه دا دَی:

١ ـ اوبه افغانستان لپاره نفتي هیوادونو لپاره د نفتو په څېر دي.

٢ ـ اوبه د افغانستان ملي او بین المللي پانګه ده.

٣ـ تر هغه وخته پوري چي افغانستان و نتوانیري د خپلو اوبو کنټرول بشپړ کړي نباید ګاونډیانو سره د اوبو تړون تنظیم کړي.

۴ ـ هرڅوک چي د اوبو له کنټرول مخکي د پولیزو اوبو په تړاو له ګاونډیانو سره قرارداد وکړي هېواد ته خائین دی.

د افغانستان د اوبو حوضي په شپږو برخو ویشل شوي دي(١٨) :

١ ـ آمو دریا

٢ ـ شمال حوضه

٣ ـ هریرود او مرغاب

۴ ـ هلمند(هیرمند)

۵ ـ کابل

۶ ـ له یو بل جلا، متفرقي او وېشل شوي هغه حوضي چي هومره اوبه نلري.

د دي هیواد د اوبو په اطلس کي د افغانستان د حوضو آمار هم د همدي تقسیم بندی پر اساس دي. افغانستان یوولس لوی او نسبتاً لوی سیندونه (رودونه) لري چي له هیواده د باندي وځي. افغانستان په ظاهري توګه هیڅ هیواد سره هیڅ ډول قرارداد نلري. یوازی ایران سره او هغه هم یوازي د هلمند په باب قرارداد لري.

موسی شفیق د افغانستان د وخت لومړی وزیر چي ایران سره يې په ١٣۵١ کال کي د هلمند د اوبېرخي تړون تړلی دی هغه کس دی چي افغانستان ته يې خذمت کړی دی ځکه هغه سیند(رودخانه) چي یو وخت يې ٪ ٧٠ اوبه ایران ته راتلی او په مخکینیو قراردادونو کي چي انګلیسانو تنظیم کړي دي د هغه ٪۵٠ اوبه يې ایران ته ځانګړي شوي وی. په وروستیو قراردادونو کي ایران ته د اوبو ٣٠ سلنه په پام کي نیول شوي وی.

(١٨) د افغانستان د اوبو اطلس ـ نقشه ۶٣ (Watersh ed ATLAS of Afghanistan. 2004 .Kabul

په ١٣۵١ کال کي موسی شفیق ایران سره داسی قرارداد تنظیموي چي ایران ته په ثانیه کي یوازي ٢٢ متر مکعب اوبه ورکړي. او بیا وروسته ۴ متر مکعب ورسره اضافه کیږي او ایران ته په ټوله کي په ثانیه کي ٢۶ متر مکعبو معادل اوبرخه(حقابه) رسیږي. یا ني له دي سیند څخه چي کالنی ټوله اوبه يې ٩ تر ٩،۵ ملیاردو ترمنځ ده کابو ٨٢٠ ملیونه متر مکعب ـ له لس سلنې څخه لږې اوبه يې ایران ته رسیږي.

آیا د دیپلماسی په برخه کي دغه کار افغانستان لپاره یوه لویه بریا او ایران لپاره ماته نه بلل کیده.!

شاید د ایران د هغه وخت دولت هم دغه تړون حداقل( فارسی متن کي حداقل تړون یا قرارداد مانا راغلی ده) د دي پخاطر منلی وي چي د افغانستان دولت هغه مهال د سیلابونو د کنټرول وس نه درلود.

خو همدغه بناغلی موسی شفیق، چي یو دغه شان خذمت يې افغانستان ملت ته کړی دَی او هغه مهال چي د ایران دولت ځواکمن ؤ وتوانید یو داسي قرارداد ایران سره وتړي چي د هلمند سیند له لس سلنی لږې اوبه ایران ته ورکړي، د خاین په نوم ګڼل شوی او بیا وروسته اعدام شوی دَی. البته د موسی شفیق اعدامولو نور لاملونه هم درلودل خو یو لامل يې همدا قرارداد ؤ. کولای شو داډ ولرو چي یوه ورځ به افغانستان کي د کابل او کندهار په ډګرونو کي د دي نومیالي سیاستوال مجسمي ودروي.

خو د محمد موسی شفیق اعدامول او د دي سیاستوال نوم افغان سیاستوالو لپاره د یوې الګو او تابو حیثیت غوره کړی دَی. په اوسنیو شرایطو کي (٢٠١١م – ١٣٨٩ ه. ش) هیڅ افغان سیاستوال که په هر مقام کي په پام کي ونیولی شي له جمهوری ریاسته نیولی د پولي د یوه کلي د اوبو تر یوه مدیر پوري نه یوازي ایران سره بلکي هیڅ هیواد سره د قرارداد تړلو او د یوه هوکړه لیک لاندی د لاسلیکولو جرات نلري.

خو افغانستان اوبه د څه لپاره غواړي؟

د افغانستان ستراتژیک موخي چي د ١٣٨٨ کال په غبرګولی کي تصویب شوي جدولونو په بڼه مل شوي دي:

د افغانستان د ملي پرمختیا (پراختیا) ستراتژي - د اوبو سکتور ستراژی د پایلو چوکاټ

| |
|---|
| تطبیق کوونکي وزارتونه او بنسټونه: د اوبو او انرژی وزارت، د اوبو لګولو او مالداری وزارت، د کانونو وزارت، د کلیو پراختیا وزارت، ښاري پراختیا وزارت، د اقتصاد وزارت او د ژوند چاپیریال ملي اداره |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

| |
|---|
| د رکن تولیزه موخه: د بیخناو رغونی د عامه روغتیا او ښووني روزني چمتوکولو له لارې د بی وزلو د ملاتړ، د ملي عوایدو او تولیداتو د زیاتوالی د پراختیایی ستراتژیو څواکمنول او بنستیزول، د اقتصادي او ټولنیزې شمولتیا لوړول، او د خصوصي سکتور پراختیا لپاره د زمینه جوړول. |

| شرح(شننه) | متوقعه پایلي | شاخصونه | د شاخصونو زیرمی | فرضیې/ خطرې |
|---|---|---|---|---|
| موخه: دملی محصولاتو په ډېروالي د افغانانو روغتیایی او معیشتی وضعي په ښه والي کي نقش اداکول، | نهایی تاثیرات: سرانه توګه د کورنیو ناخالصو تولیداتو د سطحي لوړول د افغانانو د روغتیایی وضعي ښه والی د ملی عوایدو زیاتول | - ملی ناخالص تولیدات<br>- روغتیا په اړه د ام دی جي مالومات<br>- د عوایدو سطحه(د عوایدو د ټیټدو او لوړېدو سلنه) | د ملي څواکونو ملي حساب ورکول | - د مجربو او مسلکی بشري سرچینو کموالی د هیدرولوژیکي، میترو لو ژیکي، جیو تخنیکي او د اوبو د کیفیت د کره مالوماتو کمښت<br>- بېخبنا او ناکافي لوازم |
| موخی: لګوونکو په ګډون په دوامداره او موثره توګه د اوبو د زیرمو پرمختیا او اداره<br><br>د سرچینو فعالیت: ( برنامي) | نهایی پایلي:<br>- کرهني لپاره د اوبو لګولو تسهیلاتو برابرول<br>- غذایی تولیداتو او غذایی تامیناتو په زیاتولو کي د دوندی ادا کول<br>- د وچکالی او سیلاونو اغیزو په وړاندي ساتنه<br>- د څښاک اوبو ته د لاسرسی ډېروالی<br>- د اوبو ګټي اخیستو نکو انجمنونو او کمیټو فعالول<br>منځنی پایلي:<br>_ د اصلاح شوي سالمی اداری جوړښت فعالول<br>- د پلانونو اوستراتژیو، قوانینو او مقرراتو پلي کول<br>- د زدکړه کړو کارمنو استخدام او په ډېره ښه وجه د سپارل شویو چارو اجرا کول<br>- د هایدرومیتریک شبکو او اوبو سره د اړوند لویو فعالیتونو بشپړ فعالول<br>- د سمندري حوزو او اوبو اداری له نویو شویو پلانونو څخه ګټه اخیستل<br>- د سنتي برنامو او د فعالی اوبوني د نورو برنامو شمېر<br>په کلیوالو او ښاري ساحو کي د اوبو رسوني او فاضلابو منځ مهاله برنامه | - د اوبوني د تسهیلاتو شکل او نوعیت او په هکتار؛ تر اوبوني لاندي ساحی مساحت<br>- د غذایی سمبالښت کرنیزو تولیداتو په زیاتوا لی کي د ونډې نوعیت او شکل<br>- طبیعی آفتونو وخت کي نیول شوي اقدامات<br>- د هغو کورنیو شمېر چي د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی لري.<br>- د کمیټو/ اتحادیو شمېر چي ځایي اجتماع په سطحه اوبیزی سرچیني تنظیموي<br>- اوبو څخه کاراخیستو قوانینو او د مقررو د چوکاټو نو برابرول او بدایه کول<br>- د اوبو مدیریت ، د ستراتژی له اساساتو کار اخیستل منعکس کوي<br>- د هغوی د دندو لایحي سره سم( د تولنیز جنسیت به تفکیک) د زدکړیالو او فعالو استخدام شویو کارمنو شمېر<br>- د یو شمېر هایدرو متریک او سترو فعالیتونو ستیشنونو فعالیت او تجهیزول<br>- بیا کتل شوي پلان سره سم د اوبو او سمندري اوبو اداره<br>- سنتي شبکو او د اوبوني نورو فعالو شبکو شمېر<br>- ښاري او کلیوالو | ملی سروی | - د ځمکلاندي اوبو کموالي او د ځمکلا ندي اوبو د زیرمو شنني اړتیا<br>- اوبو څخه دګټي اخیستو د تنظیموني اقتصادي میکانیزمونو کمښت، په اوبو رسونه (پنول) اوبو چمتوکولو ، تنظیفي سیستمونو او په اوبیزي بربښنا کي پانګونه<br>- د مسولیتونو لنډه شننه<br>- په ډېرو ذیدخله وزار تونو کي د پروژو نه ادغام او نه یولاسه کول<br>- په بیرنیو او کوشنیو پروژو باندي د تموبلوونکو ډېر تینګار(تمرکز)<br>- په ۱۵ کلونو کي د افغانستان له پراختیایي موخو سره د څښاک اوبو او روغتیا ساتني ته د لاسرسی شاخصو نو نه مطالبت ( نه مطابقت؟) |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| - بنسټيز جوړښت او د ظرفيت لوړول<br>- د اوبو د سرچينوملي برنامې پراختيا<br>- سمندري حوزې د مديريت ملي برنامه<br>- د اوبو لګولو بيا رغوني ملي برنامه<br>- د ښار د اوبو رسولو او فاضلابو او په کليو کې د اوبو او د فاضلابو د تدارک منځمهاله برنامه | - نورو وزارتونو سره په همکارۍ کې د غذايي امنيت د تامينولو د پلانونو طرح او تطبيق<br>محصول: د تقنيني جوړښتونو او د اوبو سکتور د اصلاح شويو بنسټونو رامنځ ته کول<br>- هغه پلانونو او سترتژيو برابرول او ترتيبول چې د اوبو لګول او د څښاک د اوبو تامينول رانغاړي<br>- د پاليسيو پلي کولو او ممکنو مطالعاتو اجرا کولو په منظور قانوني او مقرراتي پلوه د کارمنو د زدکړه<br>- د هيدرومتريک او شبکو نصبول او د لويو اوبيزو بيخبنايي ساختمانونه( وداني)<br>- د اوبو د سرچينو او دسمندرى حوزو د ادارى پلان بياکتنه<br>- محلى اوبوني په شمول د اوبو لګونى د شبکو بيا رغونه<br>- کليوالو او ښاري ساحو کې د اوبو رسوني او فاضلابو پروژو پراختا<br>- د غذايي سنبالتيا پلان شوي برنامي | ساحو کې د پلي شويو پروژو شمېر<br>- د هغو ساحو فيصدی چې د اوبو ٪۹۰ ګټه اخيستونکي پې په هممهاله توګه په کوزنى برخه کې اوبه ترلاسه کوي<br>- غذايي سنبالتيا او د دوام پلان پالي کول<br>- د دولتي جوړښت او د استخدام شويو کسانو د شمېر څرنګوالى چې زدکړه پې کړې ، ستراتژيو او پلان شويو سندونو ته لاسرسي<br>- د زدکړه کړو افرادو شمېر<br>-. د هايدرومتريکو، د واورى ميچونې مرکزونو او د هوا پېژندني د ستيشنو نو شمېر<br>- د پلي شويو پروژو شمېر<br>- د اوبو د لوړو بېخبناو د ودانيو ٠ساختمانون) شمير<br>- اداري او پلان جوړوني سندونو ته لاسرسي<br>- د اوبو لګولو(پنولو) او محلي شبکو شمير او موقعيت<br>- د اوبرسونى او فاضلابو پروژو شمېر او په ښاري او کليوالو ساحو کې د هغوى موقعيت<br>د پلان طرح کول | | |

خو د اوبو په اړه د افغانستان ډېرې مهمې موخې دادي:
۱ ـ د ملي محصولاتوپه زياتولى کې د اوبو رول ادا کول
۲ ـ د افغانانو د روغتيا او معيشت ښه والى

نور بيا

**مقصدونه(موخى):**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ